امیر المومنین ملا اختر منصور

# داسلامی نړۍ دنومیالی عالم شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا ډاکټر شیر علی شاه رحمه الله د وفات په اړه د اسلامی امارت د تسلیت پیغام

په ډیره خواشنئی سره مو خبر ترلاسه کړ چی داسلامی علومو ستر خدمت گار شیخ القرآن والحدیث د زرگونو طالب العلمانو استاد او مجاهدینو حمایت کونکی حضرت مولانا ډاکټر شیر علی شاه رحمه الله له دی فانی نړۍ سخه دبقا دار ته انتقال وکړ۔إنالله وإنا إلیه راجعون

دشیخ صاحب رحمه الله وفات په عامه توگه داسلامی نړۍ دمسلمانانو لپاره او په خاصه توگه دعلم دعوت او جهاد دډگرونو ته لوی او نه جبرانیدونکی زیان دی۔

مرحوم شیخ صاحب رحمه الله د خپل له فیض سخه ډك عمر وروستی سلگی نه تنها داچی د قرآن کریم نبوی احادیث د تدریس مسند دعوت منبر او جهاد تائید،او اصلاح خپله دینی دنده بلله بلکه په دی ټولو برخو کی ئی ستر خدمتونه سرته رسولی دی ،همدار از الله تعالیٰ نو موړی ته سیمی په کچه ستر علمی مقام هم وربخلی وو۔

مرحوم شیخ صاحب د افغانستان د دوو سترو جهادونو دکلك حامی په توگه پاتی شوی او د اسلامی امارت له پیل سخه ئی د افغان مجاهد ولس د جهادی داعیی کلکه دفاع اومرسته کړی وه۔

دافغانستان اسلامی امارت د مرحوم دفراق په ستر غم کی د مرحوم له کورنی داسلامی نړۍ له علمی مرکزو علماء کرامو ،دشیخ صاحب مرحوم له شاگردانو په تیره بیا د لوئی علمی مرکز دارالعلوم حقانیی له مشرانو استادانو،طالب العلمانو او د افغانستان او پاکستان له ټولو مسلمانو وسلو سره زان شریك گنړۍ او یادوټولو جهتونو تو دشیخ صاحب دوفات په اړه د تسلیت او تعزیت مراتب وړاندی کوی`

الله تعالیٰ دی د مرحوم شیخ صاحب ټول خدمتونه په خپل لوی دربار کی قبول کړی او جنة الفردوس دی ی مسکن وگرزوی آمین۔

دافغانستان اسلامی امارت

۱۴۳۷-۱-۱۲ھ ق ۳۰-۱۰-۲۰۱۵م

---